# د تیموتیوس په نوم د پولوس رسول

# اول خط

## پیژندګلو

پولوس رسول تیموتیوس ته دوه خطونه ولیکل یعنې اول تیموتیوس او دوېم تیموتیوس خطونه. تیموتیوس په هر صورت کښې د پولوس رسول روحانی زوئ وو. تیموتیوس ځوان وو خو خُدائ پاک ورله نعمتونه ورکړی وُو او هغه د اِفِسوس د جماعت د رهنمایۍ دپاره مقرر کړے شوے وو. د دې جماعت د عبادت ترتیب صحیح کولو سره سره د عقیدې اصلاح کول هم ضروری وو ځکه چې دروغژن اُستاذان په دې باندې ډېر اثر انداز شوی وُو. د دې خط بنیادی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقصد دا دے چې زیرے د ایماندارانو په ژوند کښې عملی او لیدونکے بدلون راولی نه چې تش په خولۀ د ایمان دعویٰ کوی. پولوس رسول په دې خط کښې هغه ځوان ته د جماعت د مشرانو، صحیح طور سره عبادت، او د عُهدې لرلو اهلیت او قابلیت په حقله نصیحت لیکلے دے. پولوس رسول هغۀ ته دا نصیحت هم کوی چې د دروغو تعلیم مخالفت به څنګه کوی او په جماعت کښې به خلقو سره رویه څنګه ساتی. پولوس رسول هغۀ ته هدایت ورکوی چې څنګه به د پاکیزګۍ ژوند تیروی او د ایماندارانو دپاره به یوه نمونه جوړیږی. په دې کښې مونږ ته کافی نصیحت ملاویږی چې څنګه یو جماعت له په عملی طور سره اوسیدل پکار دی او څنګه د مشرانو او کونډو فکر کول په کار دی. د حفظ کولو دپاره ۱ : ۱۵ آیت "دا خبره رښتیا ده او په هر لحاظ د قبلولو جوګه ده، چې عیسیٰ مسیح ګناهګارانو له د خلاصون ورکولو دپاره دُنیا ته راغلو."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# دُعا او سلام

۱ د پولوس د طرف نه خط چې د خلاصوونکی خُدائ پاک
او د عیسیٰ مسیح په حکم څوک چې مونږ له اُمید راکوی، د عیسیٰ
مسیح رسول دے، ۲ تیموتیوس ته چې په ایمان کښې زما وفادار
زوئ دے. په تا دې د خُدائ پلار او زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح د
طرف نه فضل، رحم او سلامتی وی. ۳ لکه څنګه چې مِکدونیه
ته د تلو په وخت ما په تا زور راوړو چې په اِفِسوس کښې پاتې شه او
ځینې کسانو له هدایت ورکړه چې غلط تعلیم ورنۀ کړی. ۴ تاسو
خلقو ته ووایئ چې خپل وخت د خپل پلار نیکۀ د دروغژنو
نسب‌نامو په قیصو مۀ ضائع کوئ، کوم چې صرف د خلقو په مینځ
کښې د بحث مباحثی سبب کیږی. داسې بحثونه د خُدائ په
خدمت کولو کښې بې‌فائدې دی، خو دا کارونه په هغه وخت
کښې ممکن دی چې تاسو په خُدائ پاک ایمان ساتئ. ۵ خو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ د داسې هدایت ورکولو نه مقصد هغه مینه ده چې په پاک زړۀ
او نېک نیت او رښتینی ایمان سره پیدا کیږی. ۶ خو ځینی خلقو د
دې نه مخ واړولو او ګمراه شول او په عبثو خبرو پسې ګرځېدل ۷
دوئ غواړی چې د شریعت اُستاذان جوړ شی، خو هغوئ په خپلو
خبرو نۀ پوهیږی چې څۀ وائی خو بیا هم ډېر ډاډه لګیا وی. ۸ مونږ
پوهیږو چې شریعت ښۀ دے، خو چې څوک شریعت په قانونی طور
استعمال کړی. ۹ خو په کار دے چې مونږ په دې پوهه شُو چې
شریعت د نېکانو دپاره نۀ دے بلکې د بې‌شریعته او نافرمانو خلقو
دپاره، د بې‌دینه او ګناهګارو دپاره، او د دین سپک کوونکو دپاره،
او د هغوئ دپاره دے چې پلار او مور یې وژلی وی، د قاتلانو دپاره،
۱۰ د حرامکارانو او د بچه بازانو، د اغوا کارو، د دروغژنو او د دروغو
قَسم خوړونکو او د دې نه علاوه د رښتینی تعلیم د مخالفینو دپاره
دے. ۱۱ دا تعلیم د مبارک خُدائ پاک د جلالی زبری په مطابق
دے کوم چې هغۀ ما ته په حواله کړے دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د رحم دپاره شُکر ګزاری

۱۲ زهٔ د خپل مالِک عیسیٰ مسیح شُکر کوم چا چې ما له
طاقت راکړو او زهٔ یې وفاداره وګڼلم او د خپل خِدمت دپاره یې مقرر
کړم. ۱۳ اګر کهٔ مخکښې زهٔ کُفر غرونکے او عذاب ورکوونکے او
ګستاخ سړے وم، خو په ما رحم وشو ځکه چې ما د بې‌ایمانۍ په
حالت او په ناپوهۍ کښې دا کارونه کړی وُو. ۱۴ او زمونږ د مالِک
فضل په ما ډېر نازل شو د هغه ایمان او مینې په وجه چې د عیسیٰ
مسیح په یووالی کښې دے. ۱۵ دا خبره رښتیا ده او په هر لحاظ د
قبلولو جوګه ده، چې عیسیٰ مسیح ګناهګارانو له د خلاصون ورکولو
دپاره دُنیا ته راغلو، چې په هغوئ ټولو کښې وړومبے زهٔ یم. ۱۶ او په
دې وجه په ما رحم وشو چې په ما وړومبی ګناه ګار کښې عیسیٰ
مسیح خپل لوئ صبر څرګند کړی، او زهٔ یې د هغه خلقو دپاره مثال
وګرځولم څوک چې به په هغهٔ د تل ژوندون دپاره ایمان راوړی. ۱۷
اوس دې د ازلی بادشاه، یعنې د ابدی او نالیدلی واحد خُدائ پاک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عزت او جلال تل تر تله وی. آمین. ۱۸ اے تیموتیوسه زما زویه، زۀ تا له دا هدایات درکوم د هغه پیشګویو په مطابق چې مخکښې ستا په حقله شوی دی، چې تۀ د هغې په مطابق ښۀ مبارزه ووهې، ۱۹ او په ایمان او په ښۀ ضمیر قائم پاتې شۀ. ځینو خلقو د خپل ضمیر ونۀ منل، نو د هغوئ د ایمان بیړه غرقه شوه. ۲۰ په هغوئ کښې همیناوس او سکندر شامل دی چې ما شیطان ته حواله کړل چې هغوئ دا زده کړی چې نور کُفر ونۀ غروی.

# د دُعا په حقله تعلیم

۱ نو بیا زۀ د ټولو نه اول په تاسو دا زور راوړم چې خواستونه، دُعاګانې، شفاعت او د ټولو خلقو دپاره شُکر ګزاری کوئ، ۲ د بادشاهانو او د ټولو لویو مرتبو خلقو دپاره دُعا کوئ، نو چې مونږ د آرام او پُرامَنه او د دینداری او د عزت ژوند تیر کړُو. ۳ داسې کول زمونږ د خلاصوونکی خُدائ پاک په نزد ښک او راضی کوونکی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی. ۴ هغه غواړی چې ټول خلق خلاصون وموميٰ او د حقیقت
عِلم ورته حاصل شی. ۵ ځکه چې یو خُدائ پاک دے او د
خُدائ پاک او د انسان تر مینځه مینځګړے هم یو دے، یعنې
عیسیٰ مسیح، چې خپله بنی آدم دے ۶ چا چې خپل ځان د ټولو
دپاره فدیه کړو او په مناسب وخت کښې دا ثابته هم شوه. ۷ زۀ د
دې دپاره بیان کوونکے او رسول او غېرو یهودیانو ته د ایمان او
حقیقت خبرې ښوونکے مقرر شوم، دا زۀ دروغ نۀ وایم بلکې رښتیا
وایم. ۸ نو بیا زۀ غواړم چې په هر ځائ کښې دې خلق بغېر د
غصې او بحث نه بې ګناه لاسونه اوچتوی او دُعا دې کوی. ۹ او
ښځې دې هم دغه شان خپل ځانونه د حیا، شرافت او پرهیزګارۍ په
جامه کښې سمبالوی، او په کمڅوه، سرو زرو او ملغلرو او قیمتی
جامو سره دې ځانونه نۀ سنګاروی، ۱۰ بلکې په نېکو عملونو دې
خپل ځان سنګاروی څنګه چې دیندارو ښځو له مناسب دی. ۱۱
ښځې دې په خاموشۍ او په پوره تابعداری سره زده کړه کوی. ۱۲
او زۀ یوې ښځې ته اجازت نۀ ورکوم چې سړو ته تعلیم ورکړی یا دې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هغوئ روب اچوی، بلکې هغه دې خاموشه وی. ۱۳ ځکه چې
اول آدم پیدا کړے شو د هغۀ نه پس بی‌بی حوا. ۱۴ او شیطان آدم
دوکه نۀ کړو بلکې ښځه یې دوکه کړې وه او ګناهګاره شوه. ۱۵ خو
ښځې به د اولاد په پیدا کولو سره نجات حاصلوی، په دې شرط
چې په ایمان، مینه او پاکیزګۍ کښې به د پرهیزګارۍ سره ژوند
تیروی.

# د رهبرانو قابلیت

۱ دا خبره رښتیا ده چې څوک د جماعت د مشر جوړېدلو
خواهش کوی نو هغه د عزت کار غواړی. ۲ نو په کار دی چې د
جماعت مشر د اِلزام نه پاک، د یوې ښځې خاوند، پرهیزګار،
شریف، د عزت قابل مېلمه دوست او د تعلیم ورکولو لائق وی، ۳
چې نۀ شرابی، نۀ جګړه مار، بلکې نرم مزاجه وی او نۀ بحث
کوونکے او نۀ د پیسو لالچی وی. ۴ په کار ده چې هغه خپل


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاندان په ښۀ طریقه وساتی او د خپلو بچو ښۀ تربیت وکړی چې د هغۀ احترام او فرمانبرداری کوی. ۵ ځکه کۀ چرې یو سړے د خپل کور په بندوبست کولو نۀ پوهیږی نو هغه به د خُدائ پاک د جماعت ساتنه څنګه وکړی؟ ۶ په کار دے چې هغه دې نوے ایماندار نۀ وی، هسې نه چې هغه مغروره شی او خُدائ پاک یې مجرم وګرځوی لکه څنګه چې یې اِبلیس ګرځولے وو. ۷ او د دې نه علاوه په کار دی چې هغه د جماعت نه بهر په خلقو کښې نېکنامه وی، او بدنامه نۀ وی نو چې د اِبلیس په جال کښې راګیر نۀ شی.

# د جماعت د خادِمانو قابلیت

۸ خادِمان دې هم دغه شان ادب ناک وی، دوه ژبې یا شرابی یا د ناجائزه مال دولت لالچیان دې نۀ وی. ۹ او په کار دی چې هغوئ د ایمان راز په صفا زړۀ قائم وساتی. ۱۰ او هغوئ دې اول



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وآزمائیلے شی، کۀ چرې هغوئ بې‌اِلزامه ثابت شی نو د خِدمت کار
ته يې پربږدئ. ۱۱ ښځې دې هم دغه شان ادب ناکې وی، غیبت
کوونکې دې نۀ وی بلکې پرهیزګارې او په ټولو خبرو کښې دې
ایمانداري وی. ۱۲ خادِم دې تش د یوې ښځې خاوند وی، او
هغوئ دې د خپلو بچو او د خپل خاندان په ښۀ طریقې سره
بندوبست کوی. ۱۳ ځکه چې کوم خادِمان چې د خِدمت کار په
ښۀ شان کوی، هغوئ به عزتمند وګڼلے شی او په هغه ایمان کښې
چې په عیسیٰ مسیح باندې دے ډېره زړۀ ورتیا وموسی.

# زمونږ د ایمان راز

۱۴ زۀ اُمید کوم چې تاسو له زر درشم، خو زۀ بیا هم تاسو ته دا
هدایات لیکم چې، ۱۵ کۀ زما په درتلو کښې ډیل وشی نو چې
تاسو خبر یئ چې د خُدائ پاک په کور کښې مونږ له څنګه سلوک
په کار دے، یعنې د ژوندی خُدائ پاک په جماعت کښې کوم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د حق ستن او بنیاد دے. ۱۶ په دې کښې هیڅ شک نشته چې د ایمان راز لوئ دے، یعنې هغه د انسان په بدن کښې رابښکاره شو، او د روح په وسیله رښتونے ثابت شو او فرښتو هغه ولیدو، او په غیر قومونو کښې د هغۀ پیغام خور شو، او په ټولې دُنیا کښې خلقو په هغۀ ایمان راوړو، او په جلال کښې بره پورته کړے شو.

# د دروغژنو اُستاذانو خلاف خبردارے

۱ نو روحُ القُدس صفا وائی چې په آخرو زمانو کښې به ځینې خلق د بې‌لارې کوونکو روحونو او شیطانی تعلیمونو طرف ته توجو شی او د ایمان نه به واوړی. ۲ دا به د هغه دروغژنو خلقو د ریاکارۍ په سبب وی، د چا ضمیر چې مړ شوے وی. ۳ هغوئ به



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلق د وادۍ کولو نه منع کوی، او هغوئ به خلق د ځینې هغه خوراکونو نه منع کوی چې خُدائ پاک د دې دپاره پیدا کړی دی چې ایمان راوړونکی او حق پېژندونکی دې په شُکر ګزاری سره خوری. ۴ ځکه هر څۀ چې خُدائ پاک پیدا کړی دی هغه ښۀ دی او د څۀ نه هم اِنکار کول نۀ دی په کار، او څۀ چې ملاویږی په شُکر ګزاری سره یې خورئ، ۵ ځکه چې دا د خُدائ پاک په کلام او د دُعا په وسیله پاک شوی دی.

# د حضرت عیسیٰ ښۀ خادِم

۶ کۀ چرې تۀ دا هدایات د ورونو او خویندو په وړاندې پیش کړې نو تۀ به د عیسیٰ مسیح هغه ښۀ خادِم یې څوک چې د ایمان په خبرو او نیک تعلیم پائی او عمل پرې کوی. ۷ د بې‌دینۍ د بحث او د زړو ښځو د قیصو نه ځان ساته او د دې په ځائ خپل ځان ته د دینداری تربیت ورکوه. ۸ ځکه چې د جسمانی تربیت



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فائده شته خو د دینداری تربیت حاصلول د دې نه ښۀ دی ځکه چې په اوسنی او راتلونکی ژوندون کښې به د دې دواړو فائده وی.
۹ دا خبره رښتیا ده او په پوره شان د قبلولو وړ ده. ۱۰ مونږ محنت او خواری ځکه کوُو چې زمونږ اُمید په هغه ژوندی خُدائ پاک دے خوک چې د ټولو خلقو او خاص د ایمان راوړونکو خلاصونکے دے. ۱۱ د دې خبرو تاکید کوه او تعلیم یې ورکوه. ۱۲ هیڅوک دې ستا ځوانی ته سپک ونۀ ګوری، بلکې تۀ د ایماندارانو دپاره په خبرو کولو، چال چلن، مینه، ایمان او پاکی کښې نمونه جوړ شه.
۱۳ ترڅو چې زۀ نۀ یم راغلے، نو د خلقو په مینځ کښې د کلام په تلاوت او نصیحت کولو او تعلیم ورکولو کښې بوخت اوسه. ۱۴ د هغه روحانی نعمت نه مۀ بې‌غوره کېږه چې تا ته د پیشګویی په وسیله د جماعت د مشرانو د لاس اېښودلو په وخت درکړے شو.
۱۵ په دې خبرو عمل کوه او خپل ځان په دې کښې مشغول کړه چې ستا ترقی ټولو ته ښکاره شی. ۱۶ د خپل ځان او د خپل تعلیم ډېر خیال کوه او پرې قائم پاتې شه ځکه چې په داسې کولو به تۀ د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان او د خپلو اوربدونکو د خلاصون سبب شي.

# د نورو دپاره ذمه واری

۱ مشر سړی ته سختي خبري مۀ کوه بلکي هغۀ ته خواست
کوه او د خپل پلار په شان خبري ورسره کوه او ځوانانو سره د ورونو
په شان سلوک کوه. ۲ او زړي ښځي د میندو په شان ګڼه او
ځواني ښځي په پوره پاکۍ سره خوښدي ګڼه. ۳ د کونډو عزت
کوه څوک چې واقعی ضرورتمندي وی. ۴ کۀ د کونډې بچی یا
نمسی وی نو هغوئ دي د ټولو نه اول د خپل خاندان ذمه واری
وپېژنی کومه چې د هغوئ مذهبی فریضه هم ده، او هغوئ دي
داسي د خپل مور پلار او نیکونو حق ادا کړی ځکه چې داسي کول
د خُدائ پاک خوښ دی. ۵ کومه کونډه چې واقعی یواځي وی او
د هغي هیڅوک هم نۀ وی، هغه په خُدائ پاک اُمید ساتی او شپه
ورځ به په زاری او دُعا کښي آخته وی. ۶ خو کومه کونډه چې په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیش عشرت آخته ده، نو هغه په ژوندانۍ مړه ده. ۷ د دې خبرو
نصیحت هم ورته وکړه چې هغوئ د اِلزام نه بچ پاتې شی. ۸ او کۀ
څوک د خپلوانو او خاص د خپل خاندان د خلقو خیال نۀ ساتی نو
هغه د ایمان نه منکر او د بې‌ایمانه نه هم بدتر دے. ۹ هغه کونډه
دې د امداد په فهرست کښې ولیکلے شی کومه چې د شپیتو کالو
نه کمه نۀ وی او چې یو ځل وادۀ شوې وی. ۱۰ په کار ده چې
هغه په خپلو نیکو کارونو کښې مشهوره وی، خپل بچی یې رالوئ
کړی وی، د مسافرو میلمستیا یې کړې وی، د مقدسینو پښې یې
وینځلې وی، د مصیبت ځپلو مدد یې کړے وی او چې خپل ځان
یې د هر ښۀ کار کولو دپاره وقف کړے وی. ۱۱ خو د ځوانو کونډو
نومونه په فهرست کښې مۀ لیکئ ځکه کله چې د هغوئ شهوت
هغوئ د مسیح نه لری کړی نو هغوئ بیا د وادۀ خواهش کوی، ۱۲
او په دې وجه به هغوئ د سزا لائقې وګرځی ځکه چې په نِکاح
کښې شوې هغوئ خپله اولنی وعده ماته کړه. ۱۳ او د دې نه علاوه
هغوئ کور په کور ګرځی او بې‌کاره اوسیدل زده کوی، او نۀ صرف


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې‌کاره ګرځی بلکې غیبت کوی او د نورو په کار کښې ګوتې وهی
او هغه خبرې کوی چې ورته نۀ دی کول په کار. ۱۴ نو زما
نصیحت دا دے چې ځوانې کونډې دې وادۀ وکړی هغوئ دې بچی
پیدا کړی او د کور اِنتظام دې سمبال کړی او مخالفینو له دې د
بدې وینا کولو موقع ورنۀ کړی. ۱۵ ځکه چې څۀ کونډې ګمراه
شوې او د شیطان په لاره روانې دی. ۱۶ کۀ د یوې ایمانداری
ښځې په رشتەدارو کښې نورې غریبې کونډې وی نو هغه دې په
خپله د هغوئ مدد کوی او په جماعت دې بوج نۀ اچوی، نو داسې
به جماعت د هغه ضرورتمندو کونډو څوک چې په رښتیا حقداری
دی مدد وکړی. ۱۷ هغه مشران چې د جماعت ښۀ اِنتظام کوی، او
خاص هغوئ چې په کلام اورولو او په تعلیم ورکولو کښې خواری
کوی، هغوئ دې یو په دوه د عزت لائق وګڼلے شی. ۱۸ ځکه چې
د خُدائ پاک کلام فرمائی چې، ”تاسو د غوبل په وخت کښې د
غوَیی خولې ته کوَرے مۀ اچوئ،“ او بل ځائ فرمائی، ”مزدور د
خپلې مزدوری حقدار دے.“ ۱۹ کوم اِلزام چې د یو مشر په خِلاف



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشی نو هغه د دوو یا د درېو ګواهانو د ګواهۍ نه بغېر مۀ منه. ۲۰
څوک چې ګناه کوی، هغوئ د ټول جماعت په وړاندې ملامت
کړئ د دې دپاره چې نور خلق هم وۀ یریږی. ۲۱ زۀ د خُدائ پاک
او د عیسیٰ مسیح او د غوره شوو فرښتو په مخکښې تا له حُکم
درکوم او تاکید کوم چې په دې هدایاتو بغېر د تعصب نه عمل کوه
او د هیڅا طرفداری مۀ کوه. ۲۲ په چا زر لاس مۀ کېږده چې د
خُدائ پاک د خِدمت دپاره مخصوص شی، او د نورو په ګناهونو
کښې مۀ شریک کېږه. خپل ځان پاک وساته. ۲۳ صرف اوبۀ مۀ
څښه بلکې د خپلې معدې او اکثر د ناجوړه کېدو په وجه لږ شان
مے هم استعمالوه. ۲۴ د څۀ کسانو ګناهونه ښکاره وی او هغوئ
عدالت ته پیش کړی، خو د ځینو ګناهونه به وروستو ښکاره شی.
۲۵ دغه شان د ځینې خلقو ښۀ کارونه هم لیدلے کیږی، خو کوم
ښۀ کارونه چې په پټه شوی وی، نو هغه به هم یوه ورځ ښکاره شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# غلامان

① هغوئ ټول چې د غلامۍ د جغ د لاندې دی، هغوئ دې خپل مالِکان پوره د عزت لائق وګڼی چې د خُدائ پاک نوم او زمونږ تعلیم بدنام نۀ شی. ② خو هغه غلامان چې مالِکان یې ایمانداران وی، هغوئ دې خپل مالِکان د وروروليۍ په سبب سپک نۀ ګڼی، بلکې نور زیات خِدمت دې هم کوی، ځکه څوک چې د دوئ د ښۀ خدمت نه فائده اخلی هغه ایمانداران او د مینې قابل دی. بیا تۀ د دې خبرو تعلیم او ډاډ ورکوه چې د هغوئ ښۀ تابعداری کوی.

# د دروغو تعلیم او حقیقی مالداری



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ کۀ څوک غلط تعلیم ورکوی او زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح
خبرې او د هغۀ هغه تعلیم نۀ منی کوم چې د دینداری په مطابق
دے، ۴ هغه مغرور دے او په هیڅ نۀ پوهیږی، او هغۀ ته د بحث
مباحثی او زبانی تکرار بیماری ده او د دې په وجه کینه او جګړې او
بده وینا او بدګُمانی رامینځ ته کیږی، ۵ او د هغوئ په مینځ کښې
مدام بحث پیدا کیږی د چا عقل چې خراب شوے دے، او د حق
نه محروم دی او هغوئ دینداری تش د ګټې ذریعه ګڼی. ۶ یقیناً
چې د قناعت سره دینداری کښې لویه ګټه ده، ۷ ځکه چې نۀ خو
مونږ دُنیا ته څۀ راوړی دی او نۀ مونږ د دې نه څۀ وړلے شُو. ۸ خو
کۀ مونږ سره خوراک او جامې وی نو مونږ دې په هغې خوشحاله یُو.
۹ خو څوک چې مالداره کېدل غواړی نو هغوئ په آزمېښتونو او د
ډېرو نورو عبثو نقصانی خواهشونو په دام کښې راګیر شی کوم چې
خلق د تباهۍ او هلاکت په دریاب کښې غرقوی. ۱۰ ځکه چې د
پیسو مینه د هر قِسم بدۍ بیخ دے، او د مالداره کېدو په لالچ
کښې څۀ خلق د ایمان نه ګمراه شول او خپل ځانونه یې په قِسما



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قِسم غمونو غلبیل کړل.

# په ایمان کښې ښۀ منډه

۱۱ خو اے د خُدائ پاک بنده، تۀ د دې ټولو خبرو نه ځان
وساته او د صداقت، دینداری، ایمان، مینې، صبر او په نرم طبیعت
پسې کوشش کوه. ۱۲ د ایمان په جنګ کښې ښۀ وجنګېږه، او په
هغه ابدی ژوندون قبضه وکړه د کوم دپاره چې تۀ راباللے شوے یې او
د کوم چې تا د ډېرو ګواهانو په وړاندې ډاډه اقرار کړے وو. ۱۳ زۀ
تاسو ته حُکم درکوم د هغه خُدائ پاک په وړاندې چې ټولو څیزونو
له ژوند ورکوی، او د عیسیٰ مسیح په وړاندې چا چې د پنطوس
پیلاطوس په مخکښې ډاډه اقرار کړے وو، ۱۴ او تۀ زمونږ د مالِک
عیسیٰ مسیح د ظاهرېدو تر ورځې پورې دا حُکم بې‌داغه او بې‌اِلزامه
وساته. ۱۵ نو خُدائ پاک به هغه په مناسب وخت را ښکاره کړی،
او خُدائ پاک واحد، مبارک حکمران، د بادشاهانو بادشاه او د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِکانو مالِک دے. ۱۶ دا واحد هغه دے چې څوک غېر فانی دے
او هغه په هغه بې‌مثاله نُور کښې اوسیږی چې نۀ چا لیدلے او نۀ به
یې ووینی. د هغۀ عزت او بادشاهی دې تل تر تله وی، آمین. ۱۷ او
څوک چې د دې موجوده زمانې دولتمند دی هغوئ ته حُکم ورکړه
چې مغرور کیږی دې نه، او نۀ دې په نا اعتباره مال څۀ اُمید کوی،
بلکې په خُدائ پاک دې اُمید ساتی څوک چې د خوشحالۍ دپاره
مونږ له ټول څیزونه ډېر زیات راکوی. ۱۸ هغوئ دې نېکی کوی او
په ښو کارونو کښې دې مالداره شی، او سخاوت دې کوی او مدد
کولو ته دې تیار اوسی. ۱۹ نو دغه شان به هغوئ ځان دپاره یوه
داسې خزانه رایوځائ کړی چې په راروان وخت کښې به د هغوئ
دپاره یو مضبوط بنیاد وی او په هغې به هغوئ رښتینے ژوندون تر
لاسه کړی. ۲۰ اے تیموتیوسه، د هغه څۀ حفاظت کوه کوم چې تا
ته حواله شوے دے. او د هغه عبثو او فضولو خبرو نه لرې اوسه کوم
ته چې تش په نامه عِلم وئیل کیږی. ۲۱ د دې بحثونو په وجه څۀ
کسان د ایمان نه واوړېدل. په تاسو ټولو دې د خُدائ پاک فضل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی.